مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۱۹/۱۰/۰۱

# د برګې نیکټایي امام!!

که څوک د پټکي په قدسیت کې شک لري نو شاید په ایمان کې به یې اوربشه وي او څوک چې زموږ په ټولنه کې د شملې په قدر نه پوهیږي، هغه ته په کلیواله ژبه کې کوږ لرګې ویل کیږي. خو داسی بریښي چې د لونګۍ سنت یواځې د افغانستان ملا صاحبانو او ولسي خلکو، د ایران اخوندانو او د پاکستان نقشبندیانو او بریلیانو ته ورپاتې دی. کنه نو ما پرون د ګوګل نړیوال جال ته بیا بیا سر ورښکاره کړ، خو نه مې د حرمینو شریفینو د کوم امام په سر درې ګزی پګړۍ ولیده، نه مې د الازهر د کوم ستر مفتي په سر دنګه شمله تر سترګو شوه او نه مې د دیوبند د کوم خطیب او سر مدرس په سر پیدا کړه.
د تیرې جمعې په ورځ، موږ د یو دفتر څلورو تنو ملګرو یو بل ښار ته سفر درلود چې یو تن مو تازه د تبلیغ له سه روزې را ګرځیدلي او ښه په جذبه کې وو. که هرڅو مو ورته وویل چې امیر صیب په مسافر د جمعې لمونځ نشته، خو هغه همدا یوه پاړۍ زبتوله چې: زه مرم له غوچې او تاسې بیا کړئ غوچې.
د لارو او ځایونو د کشفونکې آلې (جي، پي، اس) له برکته مو یو ګلالی او نوی آباد شوي جومات وموند چې میناتوري او ډیزاین یې هو به هو له استانبول څخه کاپي شوی وو. ګونبزي جومات ته ورننوتو چې په ښنو محرابي غالیو پوښل شوی او له نیم نه زیات صفونه یې ډک وو. څوک ارتې پښې ولاړ وو، چا لاسونه ځوړند نیولي وو، ځینو د بغاندو د پاسه او نامه د غوټۍ لاندې مړوند په مړوند نیولی او چا د ښځو په څیر د سینو د پاسه غبرګ کړي وو. میرمنې په شاته لیکو کې غنچه غنچه ناستې او څه یې رب ته په سجدو پرتې وې، خو کوچنیانو د خپل ماشومتوب مظاهره کوله او ښه غوبل یې جوړ کړی وو.
له آذان سره جوخت، یو ډنګر او لوړ دنګ تور پوستي امام چې ږیره یې چټه پټه خریيلې، تکه توره دریشي یې اغوستې، برګه نکټایي یې تړلې او سر یې لوڅ وو، د مرمري منبر په سر ودرید. د هر چا غوږونه لک څک او د ټولو سترګې پداسی یو ځلمي امام کې خښې شوې چې مازې څو کاله وړاندی یې اسلام قبول کړیدی. د خطبې یو ځانګړې سبک او لهجه یې درلوده چې له لنډې مقدمې وروسته یې خبرې پدی مبارک حدیث سره پیل کړې:
یوه ورځ رسول الله (ص) پخپل جومات کې له یوې ډلې ملګرو سره په خبرو بوخت وو چې یو بانډه وال راننوت، سیده د جومات یو کنج ته ورغی او په تشو متیازو کښیناست. څو تنه صحابه په ډیرې غصې سره ورپاڅیدل او نژدی وو چې له څټه یې ونیسي او ښه یې وډبوي. خو حضرت پیغمبر ورباندی غږ کړ: پریږدئ چې دغه ورور مو خپل ضرورت پوره کړي، څه ورته مه وایاست. سړي چې کله ګنده وتړله او را نژدی شو نو رسول الله ورته وویل: ګوره! دا جوماتونه د متیازو لپاره نه بلکې د لمانځه او عبادت لپاره دي بیا داسی مه کوه. یو صحابي ته یې امر وکړ: ورشه په هغه جواب چاې
باندی اوبه توئ او ځای پاک کړه. سړی هک پک حیران شو، مخ یې اسمان ته کړ او ویې ویل: یا ربه بس یواځی په ما او په محمد رحم وکړه او په بل هیڅ چا یې ونکړې. رسول علیه السلام ورته وویل: وه سړیه، د الله تعالی دربار ډیر پراخه او د هر چا لپاره دی.
امام د حدیث په فقهي اړخ باندی خبرې کولې خو ځما اروا د خپل ړنګ بنګ هیواد هغو جوماتونو ته لاړه چې منارې یې نسکورې، محرابونه یې د خدای پرستو او وطن دوستو امامانو په وینو لړي او منبرونه یې د وحشت او دهشت په لمبو کې لولپه شویدي. د همدغه زړه سواندي، معلم او مدبر پیغمبر، یو شمیر سپین پوشه او پګړۍ په سر وارثان د تکبیر د نارو په بدرګه، د هغه د امتیانو سینې په ګولیو غلبیل او د ځینو سرونه له تنو جلا کړي. بیا د ځان لپاره د جنت وثیقه ولیکي، په وژل شوی امتي د لعنتي او دوزخي ټاپه ولګوي، ټوپک په اوږه کړي او خوشحاله روان شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د حراء په سمڅه کې، همدی أميٌّ (نالوستي) پيغمبر ته لمړنی اسماني حکم د ليک، لوست او معرفت په آيت سره پيل شو ( اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ) د علم مقام ته د درناوي پخاطر، په قرانکريم کې يو سورت د قلم په نوم و نومول شو. همدې نبي ته په سلګونو ځلي الهي امر راغی چې له عقل، حکمت او پوهې څخه کار واخله، له جاهلانو څخه مخ واړوه او چپ ورڅخه تير شه.

خو له بده مرغه، د علم په جامه کې ځينې د دستار خاوندان ښوونځي سوځوي، نوی کول له علم او بصيرت څخه محروموي، له دين څخه يې زړه توروي او په لوی لاس يې د الحاد کومې ته ورغورځوي. همدا شيبه د يوې ډيرې پراخې او مشخصې سيمې نژدې دری مليونه هلکان او نجونې له ليک او لوست څخه محروم دي، مکتبونه يې يا په بمونو الوځولول شوي او يا ورڅخه د ورور وژنې لپاره مورچلې جوړې شويدي.

بلې، د عقيدې بنسټونه تل ثابت او په اصولو کې د ادلون بدلون لپاره ځای نشته. خو که څوک پدی باور وي چې دا دين د هرې زماني او هر ځای لپاره دی، بيا نو د منځنيو پيريو د سپيڅلې جهالت دوره ډيره شاته پاتې او د ګاليلی د ژوندي سوځولو زمانه بيرته نه راګرځي. دا د ټکنالوژی، ساينس او اقتصادي سياليو عصر دی. نن د هغه چا خبره ميره او غږ ته يې غوږونه نيول کيږي چې د نورو صدقې ته د لاس نيولو په ځای، د خپلې کيسې سلطان وي. کنز الدقائق له نن څخه ۷۳۲ کال پخوا امام نسفي ليکلی او عالمګيري فتاوی د مغل پاچا، اورنګزيب عالمګير په فرمان په ۱۶۸۰ ميلادي کې تدوين شوې چې يقينا دواړه د قدر وړ کتابونه دي. ولی اوس څرنګه ممکن ده چې د ۸/۱ مليارډو مسلمانانو د نن ورځې د روا غوښتنو ټولو پوښتنو ته دی ځواب ووايي؟

د خطيب صيب له خبرو او مثالونو بريښيدله چې ممکن د آی ټي (معلوماتي ټکنالوژی) انجنير به وو. نوموړي به له هرې خبرې سره د دليل په توګه د هغه چا خبره روايت کوله چې منطق يې د هوی په ځای له وحې سره تړلی دی. د خطبې په دويمه برخه کې امام يو ځل بيا پخپلې نکټايي باندی لاس کش کړ، يوې خوا بلې خوا ته يې تاوده تاوده وکتل او په يوه پانه کې د خطبې سرټکي يې له نظره تير کړل. د غاړې له تازه کولو وروسته يې د (۱۴۴۱) هجري قمري کال د پيل مبارکي وويله او زياته يې کړه:

حسن او حسين (رض) د حضرت پيغمبر لمسيان او د اسلامي تاريخ دوه ځلانده ستوري دي. څرنګه چې دوئ د خپل نيکه

په غيږ او دسترخوان لوی شوي وو، نو له کوچنيوالي ډير ځيرکه او با ادبه وو. يو ځل يې کور ته يو سپين ږيری ميلمه راغی او د اوداسه لپاره يې اوبه وغوښتې. دوئ په منډه منډه لاړل، ډکه کوزه يې راوړه او سړي په چار اندام پيل وکړ. پښه يې اول ومينځله بيا يې څنګل او بيا مخ، چې دوئ ورته ځير ځير کتل. په پای کې يې ورته وويل: کاکا جانه مونږ هم غواړو اودس وکړو، ته ګوره چې په موږ دواړو کې څوک تکړه دی؟ طبيعي ده چې د پيغمبر د سترګو تور ښايستوکي ماشومان به د خپل وياړلي نيکه په سنتو برابر اودس کوي. بوډا پوه شو چې خبره چيرته ده، نو يې ورته وويل: ستاسو له بابا لوګې سپيلنی شم، تاسو سم وکړ او ما ناسم.

امام خپله خطبه ويله، خو زما فکر دا ځل د حسين هغو کاذبو پټنګانو ته ورغی چې د سوريې په حلب او د عراق په کرکوک کې يې د حسن په لاروپانو، د هلاکو او تتاريانو هماغه ناکوبی تکرار کړې چې اته سوه کاله پخوا يې د فرات او دجلې رنې اوبه د دوئ په وينو سرې کړې وې.

د امريکا د تور پوستو د سترغورځنګ نوميالي مشر، مارټن لوتر کينګ يوه د کاڼي کرښه کاږلې چې: (ما د دښمنانو کړيکې دومره نه کړوي، څومره مې چې د دوستانو چپ والی ځوروي) نو ما ته ددی سړي په خبره کې پوره وزن ښکاري، ځکه همدا اوس چې دين ته څومره تاوان جاهلو ديندارو رسولی، هغومره لا هوښيارو بې دينانو ندی اړولی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ